مورچل

د "الخندق" نوي عمليات
څه په ډاګه کوي؟!

دوولسم کال، څلورمه، پرلپسې ۱۱۶مه ګڼه،
رجب المرجب ۱٤۳۹هق اپرېل ۲۰۱۸م

- ناټو له مسئولیته د تېښتې په لټه کې...!!
- اُمُ الفساد !!
- د ثور اتمه د افغان‌ولس د جهادي بریا بریمنه ورځ!
- د غوايي له انقلابه څلويښت کاله وروسته !

الخندَق عَمليّات

او د را روان کال جهادي لرلید

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دوولسم کال څلورمه، پرلپسې ۱۱۲مه ګڼه، رجب المرجب ۱۴۳۹هـ ق اپریل ۲۰۱۸م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	الخندق عملیات او د راروان کال جهادي لرلید.....	۲
۳	پر امریکایي یرغلګرو د الخندق عملیاتو اغیز.....	۵
۴	ناټو له مسئولیته د تېښتې په لټه کې.....	۷
۵	ام الفساد.....	۹
۶	د غوایي له انقلابه څلویښت کاله وروسته.....	۱۲
۷	پر دمشق د امریکا حملې شامي مظلومانو ته څه ګټه....	۱۵
۸	د امریکایي خلکو نظر!!.....	۱۸
۹	د ثور اتمه د افغان ولس د جهادي بریا بریمنه ورځ.....	۲۰
۱۰	د ثور اوومه زمونږ د هیواد د تاریخ یوه کرغېړنه ورځ....	۲۲
۱۱	د اسلام غزوات او سرایا.....	۲۴
۱۲	جنګي جنایتونه (اپریل).....	۲۷
۱۳	د مورچل وېرمې.....	۳۰
۱۴	د ۲۰۱۸م کال د مارچ میاشتې جهادي خبرونه.....	۳۲

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خپل — ایوب صافی
حسن زوی — حکمت بغلانی
زبیر مسافر — حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د "الخندق" نوي عمليات څه په ډاکه کوي ؟!

په هيواد کې د امپريالستي استکبار په وړاندې د روان جهاد تسلسل او دوام چې تر اوولسو کلونو يې موده اوږده شوه ؛ يو ترټولو واضح او څرګند پيغام چې له ځان سره يې لري؛ دا دی چې دا مقاومت به دوام پيدا کړي خو له منځه به ولاړ نه شي د امريکا او ناټو د يرغل هدف خو همدا وو چې د لته د اسلامي نظام فکر له منځه يوسي، اوس نه يوائې دا چې دا هدف تر لاسه نه شو ، بلکې ورځ تر بلې يې قوت پيدا کړ او چې ورځ تېريږي د مجاهدينو مورال قوي کيږي، دهمدې قوت له مخې يې خپل مقاومت ته دوام ورکړی او له هماغه پيله يې خپلو اهدافو ته د تحقق په غرض د مقاومت دلاچټکتيا او د جهادي بهير د سرعت لپاره دهر پسرلي علميات په يوه روح بښونکي نوم سره پيل کړي ، چې هر نامه يې په خپل وار خپل اثر پرې اينبی او د دغو اهدافو په تحقق کې يې ببلې لاسته راوړنې لرلې دي.

اسلامي امارت تل د پسرلنيو عملياتو پيل په ډېر کلک هوډ او مضبوط عزم سره کړی د " الخندق " دنوم شاليد ته په کتو په دې نوم د سرښيو عملياتو پيل د ائيتلاف په وړاندې دغه هوډ لاقوي کوي او خپلو اهدافو ته درسېدو پوره ژمنتيا ښيي، په دې جذبه او مورال چې دهيواد استعمار ته جوړ ائيتلاف به له فشل او ناکامي سره پکې د اسې مخ کيږي لکه د سړې امپراتورۍ مغرورې لښکرې چې ورسره مخ شوې.

دهيواد کورنيو او بهرنيو دښمنانو تل په دې هيله خپل پلانونه اړولي را اړولي دي، چې که يو نه وي په بل او که بل نه وي په بل پلان به مقاومت له پښو ورغورځوي، خو په مقابل کې يې د مجاهدينو مورال او د مقاومت عزم دومره ټينګ دی چې نه يوائې دا پرهغوی د دښمن جګړه ايزو پلانونو او ستراتېژۍ کوم اثر نه دی کړی، بلکې په وړاندې يې دادی په د اسې جذبه عمليات پيل کړل چې لکه څرنګه د مشرکينو ائتلاف د مسلمانانو په وړاندې د " الخندق " جګړې له پای سره له منځه ولاړ او هيڅکله يې بيا په وړاندې ټينګ نه شول؛ همدا سې به د ګران افغانستان د خپلواکۍ او د افغان مسلمان ولس د ملي هيلو په ضد جوړ ائيتلاف هم له منځه چې بيا به يې هيڅ ځواک هم سره راټول نه کړای شي. ان شاءالله.

اسلامي امارت په خپله کړنلاره کې تر ډېره بريالی دی ځکه د لته د مجاهدينو هرګام تر بل لاګړندی او هر تکيتک يې تر بل لا مؤثر دی، خو په وړاندې يې د دښمن ته اوس له عام وژنې پرته نور هيڅ نه دي ور پاته.

حبیب مجاهد

الخندق عملیات

او د را روان کال جهادي لرلید

د افغانستان د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا د روان کال د ثور په پنځمه نیټه چې د اپریل میاشتې له ۲۵ مې سره سمون خوري د الخندق په نوم نوي جهادي عملیات اعلان او پیل شول. نوي عملیات په داسې حال کې اعلانیږي چې په افغانستان جهادي وضعیت خورا حساسې مرحلې ته رسیدلی دی. په دې لیکنه کې هڅه کوود عیني وضعیت په تناظر کې د را روان کال د جهادي حالت په اړه خپل اتکل او لرلید در سره شریک کړو.

د ټرمپ د ستراتیژۍ آزمون

را روان کال له دې اړخه هم ډیر مهم دی چې هغه امریکایي ستراتیژي به په کې وازمویل شي هغه چې امریکایي یرغلګر او د هغوی داخلي ګوډاګیان یې د خپلې بریا لپاره وروستی امید بولي. ولسمشر ټرامپ خپلې ستراتیژي په تیر اګست میاشت کې په ډیرو غورو دربو سره اعلان کړه، اما اوس چې له هغه وخت نه نهه میاشتې پوره کیدونکې دي، لا هم د جګړې په ډګر کې د امریکا په ګټه د بریا کوم څرک نه ښکاري.

په تیرو نهو میاشتو کې نه خو امریکایان او اجیران یې له مجاهدینو څخه د کومې ولسوالۍ یا مهمې سیمې په نیولو توانیدلي او نه یې هم مجاهدینو ته د پام وړ تلفات رسولي دي. یوازینی تحول چې راغلی د مجاهدینو په بریدونو کې زیادت او مؤثریت دی چې خپله دښمن هم وربانديې اعتراف لري. په همدې استناد ویلی شو چې د ټرمپ ستراتیژي له وړاندې لا له ناکامۍ سره مخامخ او د شکست په حالت کې ده.

د الخندق عملیات چې مجاهدینو ورته ټول ژمی تیاري نیولې، امید شته چې د ټرمپ د جنګي ستراتیژۍ په تابوت به وروستی میخ هم ټک وهي او د عصر ددې کبر جن فرعون جنګي لاپې او مغرروانه ګوانبونه به د هغه د اسلافو (بوش او اوباما) په شان په اوبو لاهو کړي. که د الله تعالی په فضل سره د

خندق عملیات په ترڅ کې د ټرمپ ستراتیژي بې اغیزې شي نو امید شته چې همدا به په یرغلګر غلیم وروستنۍ او پریکنده بریا وي او بیا به اشغالګر ونه توانیږي چې دلته د خپل اشغال د دوام لپاره نوې طرحې پلان او د اشغال د نور اوږدولو فکر وکړي.

نوي جنګي تاکتیکونه او وسلې

د اسلامي امارت مجاهدینو په دې وروستیو کې په جهادي ډګر څه داسې نوي جنګي تاکتیکونه کشف کړي او تجربه کړي چې په ډیرو کمو امکاناتو او افرادو د دښمن ډیر قوي مراکز یې فتحه او درانه تلفات یې وراړولي دي. د دې تاکتیکونو له جملې یو هم د شپې د لید له دوربینونو څخه د مجاهدینو پراخه استفاده ده هغه څه چې اشغالګر یې هم وارخطا کړي دی.

د امریکا مشهورې ورځپاڼې نیویارک ټایمز څه موده وړاندې په یوه تحلیلي مقاله کې ولیکل: طالبان چې پخوا نا مجهز ځواک بلل کیده اوس د شپې له عینکو او لیزري وسلو نه په استفاده په واقعي خطر بدل شوي دي. طالبان اوس د شپې په تاریکۍ کې له دې وسیلو نه په استفاده د امریکایي ځواکونو د هیلکوفترو او سرتیرو د لیزري او مادون قرمز وړانګو په کشف سره د هغوی عملیاتي مسیر څاري او په وخت ورباندې متقابل بریدونه کوي. له همدې امله خو امریکایي ځواکونو ته ویل شوي چې نور د دوی چورلکې او لیزري عملیات د شپې په وخت محفوظ نه دي او کیدای شي چې د طالبانو لخوا کشف او هدف وګرځي.

طالبان د شپې په وخت د امریکایي چورلکو او بې پیلوټه طیارو د لیزري تحرکاتو په کشف سربیره د شب دید دوربینونو څخه په امنیتي پوستو په عملیاتو کې هم پراخه ګټه اخلي.یوه امریکایي جنرال د نوم نه ښودلو په شرط نیویارک ټایمز ته ویلي چې له ۲۰۱۴ میلادي نیولې تر ۲۰۱۷ پورې د طالبانو لخوا د شپې ناڅاپي عملیات دوه برابره زیات شوي چې ورسره د عسکرو مرګ ژوبله دری برابره زیاته شوې ده.

لکه نیویارک ټایمز ورځپاڼې چې لیکلي دي، په وروستیو کې د مجاهدینو د لیزري وسلو او دروبینونو څخه په استفاده ترسره شوي نږدې ټول عملیات فوق العاده مؤثر او بریالي ثابت شوي دي. د همدې تاکتیکونو څخه په استفاده مجاهدینو توانیدلي چې په غزني، کندهار، هلمند، فراه، سرپل او ګڼو نورو ولایاتو کې د دښمن سترې قرارګاوې له منځه یوسي او په کې میشت ټول عسکر ووژني.

دا بریالی تاکتیک چې له یوې خوا د مجاهدینو حفاظتي او کشفي ځواک غښتلی کوي له بلې خوا په جګړه کې د مؤثر ګوزار توان وربښي امید شته چې په الخندق عملیاتو کې به مجاهدین ترې اغیزناکه استفاده وکړي او د جګړې په ډګر کې به د مجاهدینو په نفع ټاکونکی نقش اداء کړي.

د الخندق روحیه ورکوونکې نوم

د الخندق عملیاتو په اړه د اسلامي امارت لخوا په نشر شوې اعلامیه کې راغلي دي(اسلامي امارت سربنې جهادي عملیات ځکه د (الخندق) په نوم تفاؤلا ونومول چې زمونږ اوسنی جهادي وضعیت کټ مټ د صدر اسلام د مسلمانانو هغه وضعیت ته ورته دی چې د هجرت په پنځم کال د اسلام د دښمنانو مختلفې ډلې وروسته تر دې چې د بدر په غزوه کې یې لویه ماتې وخوړه تر مختلفو نومونو لاندې سره راټولې او په مدینه منوره کې یې د اسلامي حاکمیت د له منځه وړلو په مقصد د جګړې او زور ازمویلو پریکړه وکړه، خو د مشرکینو دغه ستر تهاجم چې په غزوة الاحزاب یا غزوة الخندق سره یادیږي، الله تعالی یې نتیجه د هغه څه برعکس کړه کومه چې کفارو ترې تمه درلوده، او د (الخندق) معرکه په ځای د دې چې د مسلمانانو د محو کولو وروستی جګړه شي د کفارو په پریکنده شکست سره په داسې ډول پای ته ورسیده چې له هغه وروسته یې بیا هیڅکله هم په مدینه منوره باندې د یرغل جرأت ونه کړای شوای او په اړه یې رسول الله صلی الله علیه و اله و سلم وفرمایل: اوس به موږ ورباندې حملې کوو، نور به دوی رابانديې حملې نه کوي، بیا هغه و چې د مجاهدینو مسلسل فتوحات پیل او د کفارو شکستونه په برخه شول.

د الخندق دې تاریخي شالید او مفهوم ته په پام سره امید شته چې الله تعالی به دغه مبارک عملیات هم په همدا سې ښه او پریکنده پایله منتج کړي او همدا به د دښمن د شکست وروستی جګړه شي. ان شاءالله تعالی

او په پای کې باید ووایو چې که د مجاهدینو لوړ او متین عزم ته ګورو او بالمقابل د دښمن زار او دربدره حالت ته نظر وکړو، نو امید شته چې الله تعالی به دښمن سرکوب او مختوری کړي. د اوسني فاسد رژیم د سقوط ټول مقدمات پوره شوي دي. ګوډاګی رژیم د بقاء لپاره هیڅ توان او استعداد نلري. فاسد رژیم لکه څنګه چې د مجاهدینو له ځپونکو بریدونو سره مخامخ دی همدا سې له دننه هم د اختلافاتو، اداري فساد، جنجالونو او بې اعتمادۍ چینجو شپیللی دی، نو ځکه د سقوط په غاړه ولاړ او د نسکوریدو په حال کې دی.

پر امریکايي یرغلګرو د الخندق عملیاتو اغیز

احمد مختار

د روان کال د ثور د میشتې په پنځمه نیټه طالبانو د الخندق په نوم پسرلني عملیات اعلان کړل.

دغه جهادي عملیات د خپل نوعیت له مخې تر نورو هغو یو لړ استثناآت لري چې دښمن یې له سختې ورخطایي سره مخ کړی دی.

استثناآت یې دا دیچې یاد عملیات د پیل له لومړۍ ورځې ډیر په ګړندیتوب سره د یرغلګرو او د هغوی د ملاتړو خلاف پلي شول.

سږکال سره له دې چې خارجي یرغلګرو تر بل هروخت زیات وحشت وکارا وه او د ټرمپ د جنګي استراتیژۍ په ترڅ کې یې ډیر بیوزله ولسي وګړي په بمباریو او بریدونو شهیدان کړل، خو د هغوی ګوډاګي رژیم تربل هروخت زیات د سولې په اړه سازشي تبلیغات کوي.

د ګوډاګي رژیم مشر اشرف غني او د هغوی ټول تبلیغاتي ماشین پر دې مصروف دی چې مونږ سوله غواړو، او طالبانو ته مو د سولې لپاره بې قیده او شرطه پیشنهاد کړی دی چې هغوی هم زمونږ په پیشنهاد غور کوي.

سره له دې چې افغان مسلمان ولس او مجاهدین اوس د دغو درغجنو ګوډاګیانو له دروغو سره نښه بلد شوي او هیڅ کله هم ورباندې باور نه کوي، خو دوی بیاهم له خپلو سازشي تبلیغاتو څخه لاس نه اخلي.

د کابل رژیم دروغجنو ډنډورچیانو به د خپلو تبلیغاتو د ریښتیا ښودلو لپاره دا ویل چې طالبانو ځکه دا ځل د اشرف غني د سولې وړاندیز منلی چې د هغه په اړه یې په رسمي لحاظ خپل منفي غبرګون نه دی اعلان کړی.

خو د الخندق جهادي عملیاتو اعلان د دښمن دغه ټول سازشي تبلیغات او د دروغجنې سولې په اړه د دوي ډنډورې ټولې باطلې او دروغ ثابت کړي ځکه طالبانو په یادو عملیاتو کې د یرغلګرو او د هغوی د ملاتړو خلاف پر جهادي مقاومت تداوم او ټینګار تر ټولو غوره لاره بللې.

همدا راز یې په وضاحت دا خبره جوته کړې چې د کابل ګوډاګی رژیم چې د سولې په نوم کومې هلې ځلې تر سره کیږي هغه فقط شعاري

بڼه لري چې د امريکايانو د عملي جنګي اقداماتو په ترڅ کې د پلي کيدو هيڅ چانس نه لري.

خو طالبانو د الخندق په نوم جهادي عملياتو سره د دښمن دغو ټولو تبليغاتو او د سازشي سولې په اړه دروغجنو شعارونو ته د پای ټکی کيښود.

د طالبانو لخوا د الخندق عملياتو د اعلان په وړاندې لومړنی غبرګون په افغانستان کې د ميشتو يرغلګرو و چې ويې ويل چې دا عمليات بې اغيزې او مونږ به طالبان د جګړې په زور د سولې منلو ته اړ باسو.

همداراز د رژيم د دفاع وزارت په ډيرې وارخطايي سره د هغوي په وړاندې غبرګون وښود او هغوی هم د خپلو بادارانو په څير ياد عمليات بې تاثيره ياد کړل.

الخندق اغيزمند عمليات

د خارجي يرغلګرو او د هغوی د ملاتړو د ادعاوو برخلاف الخندق عمليات ډير مؤثر او د هيواد په ګوټ ګوټ کې يې دښمن ته درانه ځاني او مالي تلفات واړول.

له کندهاره نيولې تر هلمند، فراه نيمروز، کندوز، ننګرهار، پکتيا، خوست، غزني، لوګر او... د دښمن لوړ پوړي افراد يو په بل پسې ختم او ډيرې سيمې يې د دښمن له لوثه پاکې کړلې.

د الخندق عملياتو له خپل نور اغيزمنتوب سره سره د رژيم لخوا د تيرايستونکو ټاکنو لپاره د نوم ليکنې پروسې هم له بشپړې ناکامي سره مخ کړه.

دا هم د خندق عملياتواغيز و چې دښمن له ټول زور او ځواک سره و نه توانيده چې حتيد ولاياتو په مرکزونو کې د نوم ليکنې پروسه بريالی کړي.

حتی خبره تر دې ورسيده چې په ډيری ولايتونو کې د نوم ليکنې تش په نوم پرانيستل شوي مرکزونه هم د مجاهدينو د احتمالي بريدونو له امله له هيڅ ډول نوم ليکنې پرته وتړل شول.

همدا راز د الخندق عملياتو بل مؤثريت دا دی چې د پيل له لومړی ورځې راهيسې بغير له هيڅ ډول توقف نه په ډير ګړندیتوب سره پرمخ روان او هره ورځ يې د تنفيذ ساحه مخ په پراخيدو ده.

هيله مندیو چې الخندق عمليات به لکه د الاحزاب (الخندق غزوې) په مهال چې خدای تعالی د کفارو او مشرکينو د ټولو ډلو ټپلو د تباهي غزوه وګرځول، همداسی به د اسلامي امارت لخوا تفا ولا د الخندق په نوم اعلان کړی عمليات هم د صليبيانو او د هغوی د ټولو ايتلافيانو او ملاتړو د تباهي او ناکامي لامل وګرځوي.

ان شاء الله.

ناټو له مسئوليته

د تيښتې په لټه کې...!!

موسی فرهاد

د اشغالګري امريکا جنګي حليف (ناټو) څو ورځې وړاندې د باندنيو وزيرانو په کچه پخپل مرکز بروکسل کې غونډه درلوده چې په ترڅ کې يې د ناټو عمومي منشي- ينس ستولنبرګ د افغانستان د وضعيت په اړه وويل: مورږ به هڅه وکړو چې په افغانستان کې خپل نظامي حضور نور هم وغځوو او په دې موخه به ښايي د ځواکونو شمېر زيات کړو. خو له دې اشغالګرانه او جګره ايز پيغام سره سره يې طالبان د سولې په راوستلو مخاطب کړل او زياته يې کړه چې په افغانستان کې سوله راوستل نور د طالبانو مسئوليت دی.

د نومورې د دې خبرې پيغام لب لباب دا و چې د جګړې دوام او ګرمول د امريکا په مشرۍ د ناټو دنده ده خو سوله راوستل د طالبانو مسئوليت دی.

نه پوهيږم دا به څومره معقول وړانديز وي چې ناټو خپله غونډه په دې موخه راغوښتي وي چې په کابل کې د خپلې تپل شوې اداري د نظامي تجهيز او ملاتړ لپاره د ځواکونو او جنګي وسايلو پر زياتولو خبرې کوي او په عين حال کې له طالبانو د سولې د راوستو مطالبه کوي.!

له دې نه خو حتی يو ماشوم هم پوهيدلای شي چې امريکا او ناټو په افغانستان کې سوله نه، بلکې د جګړې دوام غواړي.

کـه څـه هـم د اشـغالګرو دا ډول غونـډې د هميشه په څير دا ځل هم بې پايلې پای ته ورسېدې. خو دا يو ټکی واضح شو چې ناټو په افغانستان کې له خپل درانه مسئوليته د تيښتې هڅه کوي، د خپلو استعماري موخو په مقابل کې نه د افغان ولس بشري حقوق په پام کې نيسي او نه نړيوال نورمونه ورته د اهميت وړ دي.

دا چـې جګـړه د امريکـا پـه مشرۍ د نـاټو مخکښو غړو پيل کړي؛ د ختمولو مسئوليت يې هم دوی ته راجع دی، په افغانستان کې چې په دې 17

کلنه جګړه کې ځومره وژني شوي، ځومره تباهي رامنځ ته شوي؛ پرې يې په هر لحاظ ټوله د اشغالګرو پر غاړه ده، ناټو دې اوس له خپل درانه مسئوليته د تيښتې ناکامه هڅه نه کوي.

ټول دنيا وال په دې خبر دې چې د نه څه په بهانه امريکا د ناټو په ملتيا پرافغانستان پوځي بريد کړی، چې تر نن ورځې پوري ادامه لري. که څه هم اشغالګر په ظاهره د سولې تزويري چيغې وهي خو واقعيت دا دی چې هغوی تراوسه د جنګ جګړې د وسايلو د تهيه کولو او زياتولو په لټه کې دي، بمبارونه يې د پخوا په پرتله څو برابره زيات کړي، د طالب په پلمه له هيڅ ډول وحشت څخه مخ نه اړوي.

مقدسه اماکن، لکه جوماتونه او دينې ښوونځي، ملکي تأسيسات، لکه د خلکو کلي کورونه، شخصي املاک باغونه او پټي، عام المنفعه تأسيسات لکه، روغتيايی کلينيکونه او نور... بيلابيل له جګړو مستثنی أهداف هغوی په پرلپسې ډول په نښه کړي او په نښه کوي يې، په دې اړه د چا نقد او اعتراض ته هيڅ ډول اعتنا هم نه کوي. مثالونه يې په سلهاوو دې چې ټوله دنيا او افغانان يې د سر په سترګو وينې.

حتی څه موده وړاندې ټرمپ د خپل ټويټ له طريقه اعلان وکړ چې امريکايی ځواکونه دې په افغانستان کې د شک پر بنياد هم هر ډول عمليات وکړي، د ملکي تلفاتو پروا دې نه کوي، د طالب خپل خپلوان او د هغه کورنۍ دې هم په نښه کړي.

د ټرمپ دا ډول بشرضد اعلان هسې يو تصادفي او جذباتي پيغام نه، بلکې د دوی د ستراتيژۍ آساسي برخه ده، ځکه چې د هغوی دا ډول اعمال لا له وړاندې هيڅکله متوقف شوي نه دي، او ټرمپ چې دا خبره ليکلي هم ويل کيږي چې د يوې ويډيويی صحنې تر ليدلو وروسته يې ويلی، په ويډيو کې ښکاري چې امريکايی عسکر پر يو کور چاپه وهي، د دروازې په مخکې لږ انتظار کوي چې مشکوک کس د دوی په اصطلاح تروريست راووزي، دوی به ډزې باندې وکړي او يا به نيسي، ټرمپ وويل چې دا ځواکونه ولې انتظار کوي بايد چې د دې کور له غړو سره دې ټول ووژني او يا دي ونيسي.

نو له داسې يوې بدې ارادې سره چې اشغالګر يې د افغانستان ولس ته لري؛ آيا دا د منلو وړ ده چې د هغوی د سولې خبرې دې ريښتيني و اوسي.؟ هيڅکله نه.

افغان ولس په دې باوري دی چې په افغانستان کې جګړه د ناټو پوځي ځواک، د امريکا په مشرۍ په خپل يرغل سره پيل کړې او همدوی به يې پای ته رسوي. دوی له خپل جنايت او مسئوليت نه ځان نشي خلاصولای. تياری د جګړې غځولو ته کوي، خو نارې د سولې وهي.؟!

ټول خلک په دې باور دي، که امريکا او ناټو د جګړې پای ته رسول غواړي، خپل پوځونه دې له افغانستانه وباسي، جګړه په همغه ورځ پای ته رسېږي. او نړۍ هم په دې متيقينه ده چې په افغانستان کې جګړه امريکا پيل کړې، پای ته رسول يې هم د امريکا او ناټو مسئوليت دی.

اُمُ الفساد ...

بشير

امریکا ځان دنړی (سپرپاور) ستر ځواک بولي او دزمکې په مخ حکومت یواځې خپل حق ګڼي، د نورې نړۍ د هېوادو واکمنو او وګړو ته د خپلو غلامانو په نظر ګوري او هرهغه واکمن یاد هېواد څملوي چې هغه دامریکا دنړیوالې واکمنۍ مفکوره ننګوي او په وړاندې یې سترګې نیغوي.

امریکا اوولس کاله وړاندې امریکا دخپلې دې ارادې دتکمیل لپاره ترټولو دمخه په افغانستان یرغل وکړ، دافغانستان لویشت لویشت خاوره یې په وینو ولړله اودلکونه انسانان یې مړه، ټپیان او دخپلو کورونو ځخه وشړل له جنازو څخه نیولي دودونو تر وراګانو، دښوونځنیو، روغتونو، مدرسواوجوماتو یې هرځه یې بمبارد کړل چې له املې یې افغان ولس ته دژوند په هره برخه کې لویې بدمرغۍ او بد اخلاقۍ راوړې، کومې چې تر دې مهاله جریان لري او له املې یې هره ورځ دافغانانو په کورونو بماردونه کوي او په کور ویې داړې غورځوي، دغلام رژیم ځواکونه او چارواکي قدم په قدم ورسره ملګري دي او دامریکایانو په ظلمونو، جنایتونو او وحشتونویې سترګې پټې نیولي.

دافغانستان وروسته امریکا په عراق یرغل وکړ هلته یې دخلکو خوشاله او ډاډمن ژوند ته نه جبرانیدونکي زیانونه واړول، ټول عراق یې لوټې لوټې کړ اوپه لکونو عراقیان یې ټپیان او شهیدان کړل، دعراقۍ میرمنو عزتونه لوټ کړل هغوی یې پخپل منځ کې و جنګول، ترمنځو یې فرقه ایزو اختلافاتو ته هوا ورکړه دسني او شیعه

ترمنځ د مذهبي جنجالونو په اچولو يې زرګونه خلک ووژل نن هم عراق کې سوله نشته خلک او حکومت يې دامريکا دغلامۍ په لومو کې ښکېل دی او دخپل استقلال او ازادۍ څخه محروم دي

دعراق وروسته يې په ليبيا يرغل وکړ هغه ليبيا چې دقدافي دحکومت په مهال يې خلکو ښه خوشال او سوکاله ژوند لاره، نن دامريکا ديرغل وروسته په ډير بد او ځورونکي حالت کې ژوند کوي دخلکو په شوندو موسکا نشته، ټول هېواد دجنګي ډلو ټپلو رحم و کرم ته پاتې دی امريکا دليبيا څخه دمليارډونو ډالرو په ارزښت تيل غله کړل اولګياده نورهم غلا کوي او ددې لپاره يې دليبيا خلک په مختلفو ډلو ټپلو کې ويشلي او ديوبل په وژلو کې يې ښکېل کړي

اوس تازه يې په سوريه هم مزايل وويشتل او مخامخ يې سوريه تربريدونو لاندې راوسته، دشک پرته په سوريه کې دبشارالاسد رژيم ظالم او غاصب رژيم نه ښونکي ظلمونه کړي په خاصه توګه په سني عربانو يې د ظلمونو غرونه نړولي، چې پکې دسوريې په لکونو وګړي مړه او ژوبل شوي او يولوی شمير يې دبشار الاسد حکومت دظلمونو له املې دخپل هېواده مهاجر شوي او په بهرينو هېوادو کې په ډېر ځورونکي حالت کې دژوند شپې سبا کوي ليکن هلته دامريکا مداخله او بريدونه په هيڅ صورت توجيه کيدونکې ندي او نه امريکا په ټوله نړۍ دباداری حق لري.

په افغانستان، عراق، ليبيا او سوريه سربيره امريکا پخپل ټول ځواک او وس دنړۍ دغاصب او ظالم رژيم اسرايل ملاتړ کوي امريکا له پيله دخپل دي حرامي اولاد (اسرايل) ملاتړ کوي او ورته دمسلمانانو خلاف ټول جنګي اوپوځي تجهيزات ورکوي ورسره نقده مرسته کوي په سياسي لحاظ داسرايل دتنها کيدو په وړاندې خنډ ده، هرکله چې د نړيوالو لخوا په اسرايل فشار سيوا شوی او نړيوالو دهغه د محکومولو غږ پورته کړی امريکا په زياته سپين سترګی هغه غږ زندۍ کړی او په رنا ورځ يې داسرايل دملاتړ لپاره هره حربه کارولې اسرايل چې په فلسطين کې کوم ظلمونه کوي او کومې ارادې او پلانونه لري ترشاه يې دامريکا لاس دی امريکا نه غواړي چې په فلسطين کې مسلمانان داسرايل په وړاندې دسياسي، اقتصادي او پوځي پلوه برلاسي شي امريکا دملګرو ملتونو دامنيت شورۍ په مټ دفلسطين په شاوخوا کې نړيوال پوځيان تعين کړي هغوی داټوله سيمه ځاري څو فلسطينيانو ته ځوک وسلې او مرستې ورنکړي اسرايل دټولې نړۍ سره دوسلو دپيير او پلو رلو اجازه لري خو فلسطينيان بيا دتش پوچک وړلو حق هم نلري په دې دومره لويه بې انصافۍ باندې ټوله نړۍ چوپه خوله ده اسلامي او نا اسلامي ټول هېوادونه دفلسطينيانو په حق کې غږ نه پورته کوي او نه داسرايل لاسونه څوک ترې اسرايل په خلامټ هرډول وسلې کاروي په مقابل کې

فلسطینیان حق نلري چې په اسرایلي عسکر دتیرې گذار هم وکړي.

لنډه داچې امریکا ټوله نړۍ سورتنور گرځولې او په ټوله زمکنۍ کره کې کې یې اورونه بل کړي په خاصه توگه اسلامي هپوادونه او

مسلمانان دخپل دښمن په حیث په نښه گرځوي وربانديې هیڅ ظلم نه دریغوي هیڅ وحشت نه سپموي، افغانستاناو عراق دوه هغه هپوادونه دي چې پکې عملاً امریکا یې یرغلگر شتون او قبضه لري او په لیبیا او سوریه باندې یې خپل لاسپوڅي گومارلي لگیا ده دهغو ټولې مادي شتمنۍ او اقتصادي زیرمې لوټوي او هره ورځ پکې په سلگونو بیگناه مسلمانان په شهادت رسوي دنورو اسلامي هپوادو واکمن دومره مرعوب او ډاریدلي چې هغوی دخپلو هپوادو ټول نظامونه دامریکا په خوښه برابر کړي څو چې داسلامي هپوادو دچارواکو دا بزدلي وې هیڅکله به مسلمانان نښه ورځ او نه گوري او نه به دامریکایانو دشر څخه نجات او مومي پکار دی داسلامي هپوادو مسلمان وگړي دخپلو پردیپالو چارواکو دمحاسبې او محاکمې لپاره غږونه پورته کړي اوهغوی څخه دخپلو هیوادو او ولسونو دژغورلو لپاره د اړینو گامونو په پورته کولو غور وکړي که دا ونکړي ممکن امریکا خپل فساد او اسلام دښمنۍ ته نوره پراختیا ورکړي او نور اسلامي هپوادو نه هم دوحشیانه یرغلونو او بریدونو نښه کړي.

د غوايي له انقلابه څلويښت کاله وروسته

قاري حبيب

د غوايي له انقلابه څلويښت کاله وروسته خلقيانو او پرچميانو ځانونه داسې ناګاره اچولي لکه هيڅ يې هم چې نه وي کړي.هغه د پښتو متل دی وايي(بارانونه وشول او چاکونه دپ شول) د تيرو څلويښتو کلونو په ترڅ کې راغليو تحولاتو کمونيستانو ته دا ګټه کړې چې اوس يې د سترو جناياتو او تاريخي جرمونو کيسې د خلکو له يادې وتلي دي او دوی هم ځانونه وربانديې ناګاره کړي دي.

يو خو له لويه سره زمونږ د اولس ځينې خلک بې حافظې دي، خلقيانو زمونږ له هيواد او ملت سره هغه جفا وکړه چې زمونږ تاريخ يې ساری نلري. زمونږ په وطن به دتاريخ په اوږدو کې قحطي راغلي وي، يرغلګر او لوټماران به راغلي وي، خلک به له لوږې او نيستۍ هلاک شوي وي، مګر کفر او ارتداد کله هم زمونږ اولس ته نه و راغلی، زمونږ اولس چې اسلام منلی و نو قناعت يې وربانديې کړی و او کله هم چا ترې اسلام نه و تروړلی.

خو دا د شوروي لخوا تربيه شوي کمونيستان خلقيان او پرچميان وو چې زمونږ د اولس د عقيدې غلا ته يې چسپولې وه، هغوی په قسماقسم تبليغاتو او تزويرونو سره هڅه کوله چې زمونږ اولس له اسلام څخه منحرف کړي، د افغان ځوان نسل ذهن او فکر ته د سپيڅلي اسلام پر ځای د مارکس، انګلز او لينن الحادي مفکوره ور پيچکاري کړي چې په دې لړ کې يې کلونه کلونه ډيرې هڅې هم وکړي او ځينې کسان يې ګمراه هم کړل.

د کمونيستانو ستره جفاء همدا وه چې زمونږ له اولس څخه يې د اسلامي عقيدې تر ټولو ستره سرمايه غلا کوله، اما دا د الله تعالی خصوصي رحم او کرم و، چې دوی په دې ارمان کې نامراده شول، الله تعالی زمونږ داولس روحاني رهبرانو، علماء کرامو او جهادي مبارزينو ته دا توفيق ورکړ چې په خپلو بې دريغه قربانيو سره دکمونيستي فتنې مخه ونيسي او افغانستان د بخارا او سمرقند غوندې

په کمونیستي جـال کـې لـه ګیـر کیـدلو څخـه وژغوري.

خو نن سبا د افسوس وړ خـبره دا ده چـې زمونږ د اولس یوه برخه خلـک چـې یـا خـو یـې دکمونیستانو مظالم له یاده وتـلي او یـا دا چـې کمونیستان یـې سـم نـه دي پیژنـدلي، هماغـه پرونیو قاتلانو لکه ډاکټر نجیب، نور محمـد تـره کي،طـاهر بدخشي، سـلیمان لائـق او نـورو کمونیستانو ته د اتلانو القاب ورکـوي، د هغـوی انځورونه په موټرو او کورونـو کـې سـاتي او د قهرمانانو په شان وربانډي افتخار کوي. خـو دا کسان په دې خبر نـه دي چـې کمونیسـتان پـه فکـري او عقیـدوي لحـاظ مسـلمانان نـه وو، د هغوی ایډیالوژي پـه الحـاد او دهریـت ولاړه وه، هغـوی پـه اللـه تعـالی، ملائکـه وو، کتـابونو ، رسولانو او د قیامت پـه ورځ بانـدې عقیـده نـه درلوده، کمونیستانو به په ډاګه ویـل چـې مـوږ یوازې هڅه څه منو چې په پنځو حواسو یې درک کوو، له هغه نه ماسوا د هیڅ شي په وجود هـم عقیده نلرو. العیاذ بالله

که د کمونیستانو په دې عقیـده کـې د چـا شک وي او یا اصلي فکري کمونیسـتان سـم نـه پیژني نو زه بـه ورتـه د هیـواد د پیژنـدل شـوي لیکوال بلال احمد بري یوه د سترګو لیدلې واقعـه د استناد په ډول ذکر کړم چـې د خپـل کتـاب (د شیطان تر وزر لاندې) ۱۸۴ صفحه کې یې ذکـر کړې ده.

بلال بری وایي ، په ۱۹۷۱ کـال کـې چـې د پاکستان په کوټه کـې دافغانسـتان پـه قونصـل خانه کې مامور وم، کابل ته دخپلو خپلوانو لیدلو لپاره لاړم ، دکابل په سیلو کې مې دیـوه دوسـت کور وو (بلال بری ددې سړي نوم نه اخـلي خـو دومره وایي چـې ښـځه یـې د اسـتاد عبـدالحی حبیبي خور وه) بلال بری وایي کابل کې دخپـل همدې دوست کره ورغلم او پـه چـای ناسـت وو چې په جومات کـې دمـازدیګر اذان شروع شـو، داذان په وخت موږ ټول چوپ کیناستو ترڅو چې اذان پای ته ورسېږه، کله چې ختم شو، نـو زمـا دانډیوال یو ځوان زوی چې نـوی پـه کمونیسـت ګوند کې داخل شوی و او پلار یې لا پرې خبر نـه وو، سمدستي موږ ته په تبلیغ پیل وکـړ او ویـې ویـل چـې (تاسـو ګـورئ چـې پنځـه عـرب افغانستان ته راغلـل او دغـه کثافـات (اسـلام ، لمونځ ، اذان) (العیاذ باللـه)یـې لـه ځـان سره راوړل، چې زمـوږ ټولنـه یـې تـر نـن پـورې لـه انکشاف او پرمختګ څخه شاته پرې ایښې .

بلال بری وایي چې پـه دې وخـت کـې یـې دپلار رنګ سخت تغیر شو، ناڅاپـه یـې لـه ګـرم چای ډک چایجوش ته لاس کړ اوخپل کمونیست زوی یې په تندي وربانډي وویشت. دزوی له سر څخه یې وینې ماتې شوې او نورې حملې یې هم

وربانډي شروع کړي، مايې لاس ونيو خو ده ويل پرې مې ږده په مابانډي په خپل کور کې جهاد فرض شو، وروسته سړی له کوټې ووت ما وويل چې ځه لاړ خپه شو خو وروسته چې راغی تفنګچه يې په لاس کې وه او غوښتل يې چې خپل کمونيست زوی زما ترمخ همدلته وولي ، خو په دې وخت کې دسړي ښځه ، زما ميرمن او زه ټول په دې هڅه شوو، چې زوی يې ترې بچ کړو. ښځې يې پښو ته ورولوېدې او مايې له لاس څخه تفنګچه ووهله او لاندې ولوېده، خو ده پرله پسې چيغې وهلې چې زما وسله راکړئ چې دغه کافر مردار کړم ، په والله که يې ژوندی پريږدم ، زما جهاد مه راخرابوئ ، خو په دې وخت کې يې زوی له کوره وتښتيد او بيا په درست عمر له پلار سره مخامخ نه شو.

دا هسې د يوه کمونيست مشت نمونه خروار واقعه ده، زمونږ د هيواد فکري کمونيستان اکثره همداسې د الحادي او کفريې نظريې درلودونکې وو. خو الله تعالی وشرمول او په دې بريالي نه شول چې ټول اولس مو د کفر او ګمراهۍ په ميکروب ولړي.

د کمونيستانو د الحادي سرګذشت، سترو جناياتو، قتلونو او د شوروي يرغلګرو د راوستلو جرمي سابقې ته په پام سره زمونږ اولس او په خاص ډول ځوان نسل بايد دوی له سره وپيژني، د دوی له جناياتو او له اسلام او وطن سره کړيو جفاګانو څخه يې ځان خبر کړي. تر څو پوه شي چې د نجيب او نورو غوندې پخواني کمونيستان ملي شخصيتونه نه بلکې د دين او وطن غداران دي چې د ويارِ په ځای بايد د نفرت په کانړو وويشتل شي.

د غوايي له کودتا څلويښت کاله وروسته مورِ دې ته اړتيا لرو چې په هيواد د کمونيستي فتنې د راتګ او کمونيستي واکمنۍ مرحله له سره تعريف او تحليل کړو، په کلي، مجلس، جومات، پيتاوي، مدرسه، مکتب او پوهنځي کې ځوان نسل ته د کمونيستانو اصلي څيره وروپيژنو، د هغوی د ظلمونو او ګمراهيو کيسې ورته وکړو. تر څو مو ځوان نسل د وطني کمونيستانو له جناياتو خبر او د هغوی اصلي څيرې وپيژني.

که زمونږ ځوان نسل د کمونيستانو اصلي څيرې وپيژني نو بيا به کله هم دې ته حاضر نه شي چې ظالم او سفاک ډاکټر نجيب ته د قهرمان لقب ورکړي او يا يې عکس د فيسبوک په پروفايل باندې ولګوي. د کمونيستانو په وړاندې د ملت همدومره ګوزاره او زغم بس دی چې دوی يې ټول محاکمه او د خپل عمل په سزا ونه رسول. تر دې اضافه دوی ته په ټولنه کې د بيا عرض اندام او ځان مطرح کولو فرصت بايد ورنکړل شي. ځکه دوی له اسلام او مسلمان ملت سره ژوره کينه په زړه کې لري او هر وخت ملت په نوو غميزو اړولی شي.

پر دمشق د امریکا حملې
شامي مظلومانو ته څه ګټه ولرله؟

حسن زوی

مورِ ټول پدې پوهېږو چې د اسلام او مسلمانانو پرضد دلویدیځ او په ځانګړي ډول دامریکا کړنلارې اوږد مهالې وي؛دحاکمانو دبدلون له املـه پدې پالیسیو کې هیڅ بدلون نه راځي؛دامریکا په سپېنې مانۍ کې جارج واکربش وي؛ بل کلنټن وي ؛جارج ډبلیو بش وي؛ باراک اوباما وي او کـه ډونالډټرمپ وي یو یې هم د اسلام او مسلمانانو سره پردښمنۍ ولاړې پالیسۍ کې بدلون نه راولي او نه یې راوستی شي بلکې که وګورونوهر وروستي دټبر نه پدې اړه زیات اخلاص ښودلی او په عمل کې یې دا دښمني زیاته ښکاره کړیده.

دافغانستان او عراق تباهي وي؛کـه دصومالیه،یمن او شام بربادي وي او که په فلسطین،کشمیر،برما او وسطي افریقا کې دمسلمانانو دوینو تویول وي پدې ټولو کې ددوئ پالیسي یوه وي او هدف ته له رسېدو وړاندې هیڅ تغیر نه قبلوي.

شام چې دټبرو ۷ کلونو راهیسې دنړیوالو زبرځواکونو له لورې داوزلو بې په یو ستر ډګر بدل شوی دبشارالاسد په ځنګ کې دروسې ودرېدل چې دخاصو موخو لپاره دي نو په مقابل کې دامریکا او دامریکا دغربي اتحادیانو عکس العمل هم ځانګړي اهداف لري او دهمدې اهدافو دتحقق لپاره پدې جنګ کې دهریو مداخله جریان لري.

ددې مداخلو هدف هیڅکله هم دشام دستونزې حل ندی. دشام دستونزې دحل لپاره چې په نړیواله سطحه هر ځای کې خبرې کېږي نتیجه یې ځکه نه راوځي او ستونزه نه حل کېږي چې نړیوال ددې ستونزې حل نه غواړي بلکې دې ستونزې ته طول ورکول دنړیوالو زبرځواکونو هدف دی نو دحل کېدو پرځای لاپسې اوګدېږي او لاپسې خرابېږي.

دبشارالاسد له لورې دشام پردومانومي سیمې داوسنۍ کیمیاوي حملې نه پس دامریکا

ولسمشر ډونالډټرمپ وویل چې په ډېر دقت ددې حملو جاج اخلو او ډېر ژر به مور پرېکړه وکړو چې بشارالاسد او حامیانوته یې ددې حملو په مقابل کې څه ډول جواب ورکړو.

درواڼ ۲۰۱۸ م کال دروانې اپریل میاشتې په ۱۳ مې نېټې دټرمپ دحکم سره سم دامریکا فوځ په حمص کې دوسلویو ډیپو؛ د دمشق په شمال شرق کې یوفوځي څېړنیز مرکز اودپلازمېنې دمشق چارچاپېره فوځي مرکزونه ؛په نښه کړل اوپدې طریقه دټرمپ له لورې شوي ګواښ عملي بڼه غوره اودمسلمانانوخواخوږي ټرمپ دبشارالاسد نه په کیمیاوي حملې کې دمظلومو وژل شویو مسلمانانو انتقام دفوځ نه دخالي کړای شویو څوفوځي ودانیو په نړولوواخست !؟

دامریکا له لورې دهمداسې عکس العمل درامخې ته کېدو قوي امکان و نو ځکه بشارالاسد خپل ټول فوځیان دفوځي مرکزونو نه ویستلي او په هیواد کې یې منتشر کړي وو او خپلې ټولې جنګي طیارې او مهم فوځي وسایل یې په لازقیه،طرطوس او حمیمیم نومې سیمو کې دروسې فوځي اډوته وړي وو؛بشارالاسد پدې پوهېدلو چې امریکا او اتحادیان یې دروسې دا فوځي اډې نه شي په نښه کولای ؛ نه یې دا اراده شته او که په نښه کوي یې او بمبار پرې کوي نو روسان به ددفاع په لړ کې دامریکا او اتحادیانو طیارې دخپلو ایس ۴۰۰ ډولو توغندو په وساطت راغورځوي .

ډېر شنونکي پدې اندي چې د روسې پر اډودامریکاحملې اودروسې له لورې ددفاعي اقدام په ترڅ کې دامریکایې طیارو راغورځول ددې دوه سترو زبرځواکونو ترمنځ دجنګ درامنځته کېدو لامل جوړېدای شي نوځکه ترې امریکا ډډه کوي .

لویدیځ پدې پوهېږي چې اوسنۍ حملې یې بې ګټې وي؛ له فوځیانواوفوځي وسایلو خالي کړای شویو ودانیو دنړولو پرته یې کومه دیادولو وړه لاسته راوړنه نه لرله او ترڅو چې بشارالاسد ځان دروسې د وزرونو لاندې ساتي خبره به همداسې بې نتیجې وي.

امریکا شاید دبشارالاسد دفوځ دقوماندې مرکز دتباه کولو اراده ولري ؛ که امریکا داکار وکړي دا به دمخالفینو پرضد دروسې ایران او بشارالاسد مشترک عملیات سخت زیانمن کړي نو یقیني ده چې دامریکا داسې اقدام به دروسې لپاره دزغم وړ نه وي امریکابه اوس دداسې اقدام نه هم ډډه کوي.

دشام ولسمشر ـ بشارالاسد ددې حملو په مقابل کې دخپل غبرګون ښکاره کولو په ترڅ کې وویل چې پرشام د امریکا او اتحادیانو حملې دنړیوالو اصولو نه سراسر مخالفت دی؛کله چې زمور په مقابل کې تروریستانو ماتې وخوړله نو امریکا،برتانیه او فرانسې مداخلت وکړ او پر شام حملې کولو ته تیار شول؛ دوئ به په خپل دې جارحیت کې هیڅکله هم کامیاب نه شي.

دروسې ولسمـــشر ولادي میرپوتین هـم پرشـام دامریکـا حملـه وغندلـه دا یـې پرشـام تجاوز وګڼلـو او ویـې ویـل چـې ډېـر ژر بـه پـدې اړه دملګـرو ملتونو غونډه راوغـواړي ؛ هغـه زیاته کړه چې پر دوما د شـامي دولـت کیمیـاوي حملـه هسـې یـوه ډرامه او پرشام دحملې لپاره پلمه وه.

په امریکا کې دروسې سفیر انـاطولي انوتـوف ویـلي دي چـې زمونږ اندېښنې اوس عملاً رښتیا کېږي؛له وړاندې نـه دپـلان شـوي پروګرام له مخې هر څه روان دي؛ مونږ یـو ځـل بیـا دیـو خطرنـاک حالـت پرلـور روان یو؛زمـونږ هېـواد ویـلي و چـې دداسـې حالـت درامنځته کېدو پړه به دواشنګټن،لندن او پـاریس پـراونږو وي خـو دوئ زمونږ تنبیه له پامـه وغورځولـه؛ دروسـې دولسمشر ـ سـپکاوې دزغم وړندی؛ ده زیاتـه کـړه چـې د امریکـا سره دکیمیـاوي وسـلو ترټولو ستړي زېرمې دي نو اخلاقاً امریکا دا حق نه لـري چـې پـدې اړه پرنورو انتقادونه وکړي.

دایران روحاني مشرخامنه ای هم دا حمله غنـدلې ده؛ دا یـې جرم ګڼلی دی او ویلې یې دي چې فرانسې او امریکا ولسمشرـان او دبرتانې لومړی وزیر مجرمین دي.

نړۍ کې ډېر څېړونکي فکر کوي چې خبره یو ځل بیا د سـوړ جنګ دزمانې پرلور روانه شویده.

خو دملګرو ملتونو ادارې مشر انتونیـوګرتیري ویـلي دي چـې دشام خطر مخ پرزیاتېدو دی او یـو ځـل بیـا دسـوړ جنـګ حالـت رامنځته شویدی.

جنګ سوړ دی او که ګـرم ، دنړیوالـو کفـري زبرځواکونـو پـه خوښه روان دی ځکه چې میدان یې اسلامي نړۍ ده دغاصبو قوتونو وسلې پلورل کېږي ؛ ازمیـل کېـږي او مســلمان پــرې وژل کېــږي؛ دمسـلمان ښـار،کلی او کـور پـرې ورانېږي؛مســلمان هجرتونــو او دربـدری تـه اړ کېږي؛دمسـلمان خاورې غصـبېږي او دمسـلمان پـه وسایلو قبضې ورځ تربلې زیاتېږي.

ډېـر دافسـوس مقـام دادی چــې خونخــوار کفــري نړیــوال ځواکونه په ډېرې اسانۍ داسلامي هېوادونـو پرضـد خپـل شـیطاني پلانونـه تطبیقـوي او د شـنډولو؛ مخنیـوي او مقـابلې یـې نـه هڅـه کېږي او نه یې کوم دولت او اداره په ځان کې توان ویني،بس یـواځې دالله تعالی دذات نه دا امېـد دی چې ددوئ ټول شیطاني پلانونه بـه شنډ او مسلمانان به دمظلومیت او مغلوبیت داوسني دردونکي حالت نه راوباسي.

د امریکایي خلکو نظر...!!

ویس افغان

نن سه شنبه د می میلادي میاشتې په لومړۍ نیټه CNN امریکایی تلویزون، په افغانستان کې د یو امریکایي عسکر او څو نورو د ټپی کیدلو په اړه د جنرال نیکلسن له خولې راپور ورکړ چې ویلي یې وو د افغانستان په ختیځ کې وژل شوی بهرنی پوځي امریکایی دی، نیکلسن د خپلو وژل شوي عسکر له کورنۍ سره خواخوږي څرګنده کړي وه. د سی این این راپور که څه هم اوږد و د موضوع اړوند یې د امریکا پر جنګي تګلاره د خلکو د نظرونو په رڼا کې انتقادي کتنه هم کړي وه.

خو د راپور په اړه د تبصرو په برخه کې بیلابیلو خلکو خپلي شخصي- تبصرې لیکلي وي، لومړۍ څو دانې یې په لاندې ډول دي، چې ما د لوستونکو د مالوماتو لپاره را ژباړلي دي.

له دې نه اندازه کیدای شي چې د امریکا خلک هم د حکومت له جنګي تګلاري راضي نه دي، بلکي د امریکا حکومت هم په وچه دیکتاتوري خپلې استعماري برنامې پرمخ وړي، که څه هم په ښکاره ادعا لري چې د امریکایی ولس د حفاظت او د هغوی د غوښتنو په خاطر یې په نړۍ کې د پراختیا غوښتنې جګړې را نښلولي دي. خو حقیقت داسی نه دی... بلکی د امریکایی خلکو د نظر بیلګه داسي ده:

Adrian

"Part" of the Price for maintaining and Expanding Americas World wide Empire.

دا د هغه څه قیمت دی چې موږ غواړو د امریکا امپراتوري نړۍ ته پراخه کړو

Stephen

At least its an American and not an European soldier who died,

لږ تر لږه، وژل شوی یو امریکایی دی، نه اروپایی..! (ممکن مطلب یې دا وي چې اروپایانو ته خپل خلک ارزښت لري خو امریکایی حکومت ته خپل خلک قیمت نلري.)

Grace

We do need to stick together, and fight for our troops to come home they are Parents ,depending on us, they have families and children, that needs them alive not dead for no reason. Again Mr. President, please bring our Troops home let them enjoy their homeland, a good night sleep in their bed, and real home cook food in their right mind and in one pieces, not when they are not able to, please Sir. Over that place is from the begging of the world, America will not and cannot fix it, we are losing our guys for someone else's problem, It just don't worth it. It just don't worth their lives.

مورِ اړتیا لرو چې ټول په ګډه د خپلو ځواکونـو د را ایستلو لپاره مبارزه وکړو، دوی هم کورنۍ لـري، مـور او پلار لري، بچیان لري، هغـوی غـواړی چـې ژونـدي یـی ووینې، نه داسي مړه چـې پـر نـه څـه مـړه شـوي وي. ښاغلی ولسمشـره! مهربـاني وکـړه زمـورِ عسـکر خپلـو کورونو ته راوله، دوی ته اجازه ورکړه چې پخپل وطن کې له خپل ژونده خوند واخلي، ښه شپه تیره کړي، پخپل بستر کې ښه ویده شي، د خپل ځان لپاره د خپلې خوښې خواړه پاخه کړي، په داسی حال کې چې جورِ وي نـه پـه داسـی حالت کې چې ټوټه او قابل یې نه وی.

ښاغلي ولسمشره! یوځل بیا د دنیا په بل کونج وکنار کې امریکایان څه نشي سمولای، مورِ خپل ځوانان د بل چا د ستونزو لپاره قربانوو، چې هیڅکله په دې نه ارزي چـې خپل ځوانان ورباندي وبایلو.

Accepting Reality

So another terrorist from America died today? Illegal invasions, killing millions of innocents, and supporting fake governments is terrorism isn't it?

مطلب دا چې نن یو امریکـایی ترهگـر ووژل شـو؟ ناقانونه پر چا تیری کول، په میلیونونو بی گناه انسـانانو وژل او د یو جعلي غلط حکومت ننگه کول، تروریزم نه دی نو څه دی؟

Razi

Americans who are killing people in thousands all over the world,seem to be perturbed by killing one soldier. Hahahaha

امریکایان چې په نړۍ کې په زرګونـو وژني کـوي، داسي ښکاري چې هغوی به نن د یو امریکـایی پـر وژلـو ډېر غمجن وي...؟! هههه

پورتنۍ تبصرې که څه هم د لږو خلکو شخصي نظرونه دي، خو اټکل له ورایه تري کیدلای شي چـې هغوی له دې کاره ځومره کرکه لري. هغوی هم زمورِ د خلکو په شان له جنګ جګړو او ظلمونـو نـه کرکـه لري. نا انصافي، د خلکو پر حقونو تیری، د بې ګنـاه انسانانو وژل، په دروغو د دیمکراسۍ او آزادۍ ناري وهل او ترپوښ لاندي جبر او ظلم کول ترټولو بدترین تروریزم او بدترین وحشت دی.

پای.....!!

د ثور اتمه د افغان ولس

د جهادي بريا بريمنه ورځ

شاهد غزنيوال

د ۱۳۷۱ هجـري لمريزکـال د ثـور اتمـه دکمونيسـتي نظـام پـر خـلاف د افغـان ولـس د جهاديبريالیتوب تاريخي ورځ ده.

په دې تاريخي ورځ کې د شوروي سره پوځ هغه انګيرنه غلطه ثابته شوه چې ويـل بـه يـې کـه زمونږ د شوبلو چاين پر آمو ور واوښت بيا به يې د هند پر ګرمو اوبو مخ راګرځوو.

دا ورځ د شوروي يرغل په وړاندې د افغان مجاهد ولس د يونيم مليون قربانيو او سرښندنو د بريا شاندارهورځ ده.

د ثوراتمه زمونږ د هيواد د وياړلي تاريخ په پاڼو کې د برحق جهاد د بريالیتوب ورځ ده .

په تاريخي لحاظ د ثور اتمه د هيواد د نورو تاريخي ورځـو لکـه د زمـري ۲۸ او سـلواغې ۲۶ همداسې له وياړونو او عظمتونو ډکه ورځ ده .

په کاروه چې د دې ورځې هم لکه د هيواد د نورو تاريخي ورځو په څير داسې د افغـان ولـس لخوا په حماسو لمانځنهکيدای ، خو له بده مرغه چې دا درنه ورځ د څوسپکو او لويـدلو کريکترونـو د خود خواهيو او لجاجت ښکار شـوه او پـه دې سـره يـې ټول هغـه درنـاوی او عظمـت چې د لکونـو شهيدانو د وينو له برکته ور په برخه شوی و له خاورو سره خاورې شو.

هوکه !

د ثور پر اتم چې کمونيستي نظام د مجاهـدينو پـه لاس سـقوط وکـړ او تنظيمـي چـارواکي پـه کابل کې د واک پر ګدی مسلط شول لـه دې سـره سـم د لکونـو شـهيدانو د آرمـانونو خـلاف د هغـوی ترمنځ د واک پر سر د چوکي تر لاسه کولو جګړه پيل شوه .

په دې جګړه کې ټول هغه افتخارات چې افغان ولس په محلي او بين المللي کچه تر لاسه کړي وو بيرته له لاسه ورکړل ، په کابل کې د کورنۍ جګړې په پيليدو سره يې جهادي آرمانونه هير او هريوه خپل شخصي مصالح په پام کې ونيول او په دې سره د يوه اسلامي حاکميت لپاره پيل کړل شوی جهاد په فساد بدل او ټول ديني، ملي او اخلاقي ارزښتونه ورکې تر پښو لاندې کړل شو.

نو هغه څه چې اوس مونږ د ثور د اتمې په اړه ويلای شو هغه دا چې دا ورځ له شکه پرته چې له افتخاراتو ډکه د تجليل او لمانځلو ورځ ده ، خو هغه کړنې چې له دې ورځې راهيسته د تنظيمي جګړه مارو لخوا په کابل کې د مجاهدينو په نوم وشوې هغه يقينا چې د اسلام، جهاد او انسانيت په خلاف داسې کړنې وي چې انسانيت يې وشرماوه .

له همدې امله د دغو شرمورنکو کړنو تر سره کوونکي که هغوی اسما ځانونه مجاهدين او يا هم د شهيدانو وارثين بولي خو په حقيقت کې هغوی هغه بې ضميره ، بې شعوره او بې ننګه مفسدين دي چې له جهاد او مجاهدينو سره هيڅ راز تړاو نه لري.

د دوي وحشي کړنو د ثور اتمه په وحشت او جنايتو کې د ثور تر اوومې هم بتره او هغه جنايات چې د دې تاريخي مجرمينو په لاس تر سره شول هغو د ثور د اوومې مجرمينو ته برائت ورکړ.

که سبا خدای تعالی افغان مجاهد ولس ته د هيواد د داخلي جنايتکارانو د محاکمې توان ورکوي نو مجاهد ولس بايد د ثور د اتمې جنايت کاران د ثور د اوومې تر ملحدو جنايت کارانو وړاندې محاکمه او د خپلو وحشي کړنو په سزا ورسوي، ځکه د ثور د اوومې جنايت کارانو هرڅه د کمونيستي دستوراتو په رڼاکې تر سره کول چې د هغوی عداوت او دښمني هرڅه ولس ته معلوم و، خو د ثور د اتمې مجرمينو ټول وحشي جنايات د اسلام او جهاد تر پاک نامه لاندې تر سره کړل چې په حقيقت کې اسلام او جهاد له هغو څخه بيزاره دی .

لهذا دا مسلمان نما مجرمين بايد د افغانانو د تاريخي ويړونو د تباه کولو په جرم محکمه شي.

د هغوی په اړه بايد افغان ولس ته وويل شي چې که ملحد کمونيستان ستاسي پر اسلامي ارزښتونو باندې د تيري له وجې د محاکمې او سزا وړ وي،نو تنظيمي مجرمين همد جهادي افتخاراتو د توهينوونکو په حيث تر کمونيستانو په قباحت او وحشت کې کم نه دي دوي هم بايد په هغه ډول د افغان مجاهد ولس د عدالت په محکمه کې د خپلو کړيو جنايتو په تور مجرم وپيژندل شي او بيا محاکمه شي .

د داسې يوې ورځې د رارسيدو په هيله .

معین احمد (خروټي)

د ثور اووه

زمونږ د هیواد د تاریخ یوه کرغیړنه ورځ

د کمونیستانو په مشري د غوایي له کودتا څخه ۴۰ کلونه تیرشول خو له دې خونړۍ کودتا نه رازیږدلې ستونزې اوس لاهم هماغسي تازه دي.

سره له دې چې د دې کودتا د کودتاچیانو شعار کور، کالي ډوډۍ و ، خو په عمل کې یې خلګو ته خپل کورونه ، کالي او ډوډۍ هرڅه په وینو ولړل.

هوکه !

ملحدو کمونیستانو د افغان مسلمان ولس په منځ کې د خپلې کفرې او الحادي عقیدې د خپرواوي لپاره له مختلفو لارو کار واخیست ، ځینې ساده کسان یې په همدې تیرایستونکو شعارونو وغولول ، او ځینو نورو ته یې د اصلاحات آراضي اشتراکي پروګرام له مخې د نورو خلګو شخصي ملکیتونه ور وویشل او هغه مسلمان مبارز ځوانان چې د کمونیستي مفکورې په وړاندې یې مقاومت کاوه هغوي یې یا د زندان تورو تمبو ته واچول او یایي هم پرته له هیڅ قانوني محکمې په پلیګون کې ژوندي تر خارو لاندې کړل.

خو د کمونیستانو له دې ټولو ترغیبونو او ترهیبونو سره سره هغوی و نه توانیدل چې خپله کفري عقیده پر افغان مسلمان ولس تحمیل کړي.

ځکه افغان مجاهد ولس چې پیړۍ پیړۍ یې په اسلامي عقیده کې تیر کړي و دا ورته هیڅ د منلو وړ نه وه چې کمونیستي الحادي افکار دي داسې په آساني ومني.

هماغه وه چې افغان مجاهد ولس د خپلو مبارزو علماوو په مشرۍ د کمونیستي کودتاچیانو خلاف خپل جهادي مقاومت پیل کړ.

دا مقاومت په تدریجي ډول د هیواد له مساجدو، دیني مدارسو ، تعلیمي مراکزو او پوهنتونونو څخه پیل او په ډیر کم وخت کې د هیواد ګوټ ،ګوټ ته ورسیدو.

ملحد شورویان چې کله وپوهیدل چې د دوئ مزدران خلقیان او پرچمیان د افغان مجاهد ولس د مقاومت تاب نه لري نو سمدستي یې خپل مزدور ګوډاګیان تره کی او امین یو په بل پسې تر خپلو انقلابي آرمانونو قربان او په ځای یې یوبل تر هغو دواړو ډیر ناولی مزدور ببرک کارمل د روسي شوبلو په سر کابل ته را دننه او د واک وګي ور سپارلې.

خو د ببرک په راتلو او د ملحدو شورویانو په مستقیم دخالت سره د کمونیستانو په مقابل کې پیل شوی جهادي مقاومت نور هم ژبغړانده او

حتی د کابل په زړه کې یې یرغلګر شورویان او د هغوی مزدوران خلقیان او پرچمیان سخت وټکول .

شورویان چې کله وپوهیدل چې د دوئ په لاس خاص روزیدلی مزدور ببرک کارمل هم د مجاهدینو په وړاندې د مقابلې توان نه لري نو یې هغه هم په خپل یو بل مزدور نجیب ګاو سره تعوض کړ .

خو د کمونیستانو او د هغوي د ملحدو مزدورانو خلقیانو او پرچمیانو په خلاف جهادي مقاومت دومره څپاند او بریالی و چې د لوي شوروي اتحاد ټول جنګي، تبلیغاتي او اقتصادي ځواک یې وننګاوه ، هماغه وه چې شورویانو له لس کلن اشغال وروسته د ۱۳۰۰۰ پوځي عسکرو ، په سلګونو زره ژوبلو او په لسګونو زره وسائلو او جنګي تجهیزاتو په له لاسه ورکولو سره یې د ژنیوا د تړون په پلمه له افغانستانه د تیښتې لاره غوره کړه .

د ثور له بدمرغې کودتا څخه لاسته راوړل شوې پایلې:

د ۱۳۵۷ کال د ثور د ۷ بدمرغه کودتا چې زمونږ د هیواد د غمیزې اصلي پیلامه بلل کیږي د لسګونوزره مشکلاتو او مصائبو ترڅنګ یې یولړ تجربې هم افغان ولس ته پریښودلې چې که افغانان تري عبرت واخلي کیدای شي په راتلونکي کې له نورو داسې مشکلاتو څخه وژغورل شي.

هغه تجربې او درسونه عبارت دي له :

۱- په افغانستان کې هیڅ پردې مفکورې ته پر مسلمان ولس باندې د منلو او تپلو ځای نشته

ځکه کمونیستي مفکوره سره له دې چې د لویې شوروي غوندې سترمادي ځواک یې تر شا ولاړ و هم په افغانستان کې د پلي کیدو هیڅ چانس و نه درلود او له هغې سره د مخالفت او مقاومت په لاره کې دوو میلونو افغانانو سرونه قرباني کړل.

۲- یووالی او اتحاد له هر دښمن سره د یوې یریالۍ مقابلې اساسي شرط دی .

له کمونیستانو او شوروي یرغلګرو سره په مقابله کې افغانانو تاریخي مقابله تر لاسه کړه ، خو دا چې افغانان په دې مقابله کې په ګونډونو او تنظیمونو ویشل شوي وو نو هماغه و چې له دې تاریخې بریاځخه یې د ځان او هیواد په ګټه هیڅ تر لاسه نه کړل .

خو د هغه برعکس اوس چې د امریکایي یرغلګرو په مقابل کې افغان ولس تر یوې قومندې لاندې جهاد کوي ، هم یې د جهاد آرمانونه محفوظ ، هم د امریکا په مشرۍ په ټولې صلیبي ټلوالې کامیابه او هم له خپل منځي جګړو او اختلافاتو څخه خوندي دي .

خدای تعالی دي نور هم د وحدت او یووالي توفیق ور په برخه کړي او د کمونیستي کودتا او شوروي یرغلګرو خلاف د ټولو شهیدانو او ټولو متضررینو دي قرباني قبولې کړي .

د اسلام غزوات او سرایا

د خیبر غزوه

...په تیر پسې

ابوظهیر

څېړنه:

خیبر کې د یهودانو د کلاوو فتح کولو د هغه ترتیب له مخې کوم چې په تیره برخه کې تیر شو ترټولو اول [ناعم کلا] فتحه شوه، بیا [قموص] بیا [صعب] او په اخر کې د [وطیح او سلالم] په نوم دوه جلا کلاوې فتحه شوې، داترتیب ابن کثیر په البدایه والنهایه او ابن هشام په سیرة کې راوړی او په سیرة المصطفی کې مولانا محمد ادریس کاندهلوي رح هم یاد ترتیب غوره کړی البته د احادیثو او سیرت په څینو نورو کتابو کې دځو نورو کلاوو ذکر هم شته، دهغه په وجه یاد ترتیب یو څه تغیر مندلی، علامه حلبي رح په حلبیه سیرة کې لیکي: د [نطاة] په نوم سیمه کې دري کلاوې وې:

۱.... حصن ناعم، ۲.... حصن صعب بن معاذ ۳... حصن قله

چې په هغو کې ترټولو ډومبی [ناعم کلا] فتح شوه، یهود دهغې نه ووتل لاړل دنطاة په یوه بله کلا [حصن صعب بن معاذ] کې پټ شول، دوهمه ورځ دلمر ډوبیدو څخه وړاندې د دوه ورځو کلابندی وروسته هغه هم فتح شوه، ورپسې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [حصن قله] په نوم دریمه کلا محاصره کړه او هغیته قُله په دې ویل کیده چې [قُله] وایي دغره څوکې ته او دا کلا هم دغره په څوکه جوړه وه، چون دغنیمت په ویشلو کې یاده کلا دحضرت زبیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ برخه شوه په دې وجه ورته [قلعة الزبیر] هم ویل کیدل او دا دریواړه په نطاة سیمه کې سیمه کې واقع وي

ددې وروسته د نورو مختلفو کلاګانو دنیولو په موخه مسلمانانو پرمختګ وکړ اوپه همدې سیمه کې یې دوه نورې کلاوې یوه [حصن ابی] او دوه همه [حصن بری] ونیوې اول حصن ابی فتحه شوه او وروسته حصن بری.

کله چې دا سیمه پوره فتح شوه نو یهودان لاړل او وتښتیدل په [کتیبه] نوم کلا کې پټ شول، کتیبه کې دري کلا ګانې وې:

۱ــ قموص ۲ــ وطیح ۳ــ سلالم

ترټولویه یې [قموص] وه کومه چې دحضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په لاس فتح شوه، د قموص دفتح سم مسلمانانو [وطیح او سلالم] دوا ړه محاصره کړل او دځوارلس ورځو محاصرې وروسته یهودو درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه غوښتنه وکړه چې مونږ؛ او زمونږ ماشومانو خلاص کړه مونږ تیاریو چې خیبر پریږدو او

بل خای ته لاړشو رسول الله ﷺ د هغوی غوښتنه او منله (حلبیه سیرة ۲ټوک ۱۶۴مخ، عون المعبود ۳ټوک ۱۲۰مخ)

دفدک سوبه:

دفدک خلک خبر شول چې خیبر کې یهودانو په دي شرایطو صلحه کړې، هغو هم رسول الله ﷺ ته پیغام را ولیږه چې مونږ ته آمان راکړه مونږ ټول مال او اسباب پریږدو او له دي ځایه جلاوطن کیږو، رسول الله رضی الله عنه دهغوی غوښتنه هم او منله او دمحیصة بن مسعود په منځګړیتوب خبرې وشوې او په نتیجه کې یې فدک دجنګ پرته فتح شو نه ورته سپاره ولیږل شول او نه پلی لښکر؛ په دې وجه فدک یواځې درسول الله ﷺ په تصرف کې پاتې شو او دخیبر پشان په غانمینو ونه ویشل شو (سیرة ابن هشام)

ځیرنه:

په دې غزوه کې څوارلس یا پنځلس مسلمانان په شهادت ورسیدل او درې نوي (۹۳) کافران ووژل شول، دفتح وروسته چې کله دغنیمت مالونه او قیدیان راټول کړای شول پکې صفیه دحیی بن اخطب (لور) او د کنانة بن ربیع میرمن هم وه چې په لنډ وخت کې واده شوې وه

حیي بن اخطب دحضرت هارون علیه السلام داولاد څخه وه دجنګ وروسته چې کله قیدیان راوستل شو حضرت دحیه رضی الله عنه عرض وکړ یارسول الله ﷺ یوه وینزه راکړه، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل: ورشه هره وینزه چې غواړي هغه واخله، حضرت دحیه حضرت صفیه غوره کړه، صحابه وو عرض وکړ:

یارسول الله ﷺ دا د دوی دسردار لورده تا سره مناسب ده

په دې وجه رسول الله ﷺ حضرت صفیه دهغه نه بیرته واخسته او په عوض کې یې هغه ته دحضرت صفیې دتره لور ورکړه او حضرت صفیه یې ازاده کړه او پخپله یې دهغې سره نکاح وکړه (فتح لباري ۷ټوک ۳۶۰مخ)

دزهر ورکولو واقعه:

دخیبر دفتح وروسته رسول الله ﷺ څو ورځې نور هم هلته تم شو، دې موده کې یوه ورځ زینب بنت حارث او سلام بن مشکم میرمنې یو وریت ورغومی (اوزګوړی) دهدیې په ډول رسول الله ﷺ ته راوړو رسول الله ﷺ چې څنګه تري څکه وکړه لاس یې ونیو بشربن براء بن معرور چې درسول الله ﷺ یوځای ډوډی خوړه هغه یوه نوړی یا څه زیات خوړلی و، رسول الله ﷺ ور ته وفرمایل: لاس ونیسه په دې ورغومي کې زهر ګډ شوي

زینب یې را وغوښته تري ددي کار وجه یې وپوښته هغې اقرار وکړ: رښتیا هم ما په کې زهر ګډ کړي ددي لپاره که ته برحق نبي یي نو الله تعالی به درته خبر درکړي او که ته دروغجن یې نو خلک به درڅخه خلاص شي

داچې رسول الله ﷺ دخپل ځان لپاره انتقام نه اخیسته په دې وجه یې ور ته کوم

تعرض ونکړ، خو کله چې وروسته بشر بن براء بن معرور ددې زهرو داثر په وجه وفات شو، زینب یې دبشر وارثانو ته وسپارله هغوی دبشر په قصاص کې قتل کړه

په بیهقي کې یو روایت دی چې زینب په جرم باندې د اقرار کولو وروسته اسلام راوړو او دایې وویل چې: ماته اوس ستا صداقت ښکاره شو زه تا (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) اودلته حاضر ټول خلګ ګواهان ګرځوم چې زه ستا پردین یم او اقرار کوم چې دالله تعالی نه سیوا بل معبود نشته او محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دالله تعالی بنده او رسول دی

زهري او سلیمان لومړی دنه قتلولو وجه همدا ښودلې چې هغه داسلام راوړو لپاره راغلې وه (فتح الباري ۷ټوک ۳۸۰مخ)

مخابره:

کله چې خیبر فتح شو او زمکه یې دالله او دهغه درسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مسلمانانو تر واک لاندې راغله رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یهودان دشوې معاهدې له مخې جلا وطن کول لیکن یهودانو عرض وکړ چې ته مور په دې زمکه پریږده مور به زراعت کوو کوم محاصل چې ترلاسه کېږي دهغو نیمائي به تاته درکوو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغوی داغوښتنه او منله او ددې ترڅنګ یې صراحتاً دا هم وفرمایل:

نُقِرُّكُم عَلَى ذلکَ مَاشِئنَا

ژ: څو چې زه غواړم تاسو به دلته میشت یاست!

د بخاري شریف په لومړي ټوک ۲۱۵مخ کې کتاب المزارعة باب اذا قال رب الارض أُقِرُّکَ ما اقرَّکَ الله الخ په فتح الباري کې باب اذا اشترط فی المزارعة اذا شِئتُ اخرَجتک دغسې معامله لومړی په خیبر کې وشوه او ددې معاملې نوم مخابره شو

کله چې دلو وخت راغی نور سول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحاصلاتو اندازې معلومو لپاره عبد الله بن رواحه ورواستاوه (باب الخرس سنن ابي داود ۲ټوک ۱۳۸مخ)

عبد الله بن رواحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ترلاسه شوی فصل په دوه برخو وویشه او بیا یې یهودو ته وویل: هره برخه چې اخلئ هغه واخلئ

یهودو دهغه دعدل او انصاف په لیدلو سره وویل: دهمداسې عدل و انصاف په وجه زمکه او اسمان ولاړدي، په یوروایت کې دي چې عبد الله بن رواحه هغوی ته وفرمایل:

یَامعشر الیهود اَنتُم اَ بغَضُ االخلقِ الیّ قَتَلتُم انبیاء الله وکَذبتُم عَلَی الله وَلَیسَ یَحملنی بِغضِی اِیّا کُم اَن اَحِیفَ عَلَیکُم (شرح معانی الآثار للطحاوي ۱ټوک ۴۱۲مخ)

ژ: اې دیهودانو! په ټول مخلوق کې زما په نظر تاسو زیات مبغوض یاست، هم تاسو دالله تعالی پیغمبران قتل کړي او هم تاسو په الله تعالی درواغ ترلي خو تاسو سره بغض ما هیڅکله هم دیته نه اماده کوي چې زه دي په تاسو ظلم وکړم

دابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راتګ:

ابوهیرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او څوتنه دهغه ملګري دخیبر دفتحې وروسته درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شول لیکن هغوی ته یې په غنیمت کې برخه ورنکړه (بخاري خیبر غزوه) نوربیا ...

جنګي جنایتونه (اپریل)

سید سعید

د ۲۰۱۸ز، کال د اپریل دمیاشتې په لومړۍ نیټه دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ په بند تیمور سیمه کې یرغلګرو اوکورنیو عسکرو د چاپې په مهال اته تنه ملکي وګړي شهیدان او ژوبل کړي دي.

د اپریل په ۱مه دهرات ولایت د شیندنډ ولسوالۍ د پرمکان په سیمه کې دیرغلګرو په بمبار کې خلګو ته مالي زیان رسیدلی او یوه اته کلنه نجلۍ شهیده شوې ده.

د اپریل په ۲مه داخلي ځواکونو د کندز ولایت ددښت ارچي ولسوالۍ د دپتانو بازار سیمه کې په هاشمیه مدرسه باندې چې ددستار بندۍ مراسم پکې روان وو، بمبار کړی، په دغه بمبار کې یو نیم سل (۱۵۰) تنه علماء، طالب العلمان، حافظان او عام وګړي شهیدان او تر دو سوه زیات ټپیان شوي دي. دې پیښې دحکومت پر ضد خلګ راوپارول، لاریونونه یې وکړل او دحکومت ضد شعارونه یې بدرګه کړل. همداراز دغه پیښه له هیواده بهرهم ډیره وغندل شوه او عاملینو ته یې د سزا غوښتنه شوه.

د اپریل په ۵مه د بدخشان ولایت دجرم ولسوالۍ په فرغامرو سیمه کې داخلي عسکرو یو مسجد شهید کړی او ګڼ کورونه یې وران کړي دي.

د اپریل په ۷مه د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ د سوزنیانو په سیمه کې یرغلګرو او داخلي کمانډویي عسکرو دملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې، دخلګو باغونه او دهستوګني سیمې یې بمبار کړي، نهه تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړي او شپیته تنه ملکي هیوادوال یې بندیان کړي دي. ګډو ځواکونودچاپې په مهال دخلګو باوړۍ/ برمې ویجاړي کړي او نقلیه وسایط یې سوځولي دي.

د اپریل په ۷مه د ننګرهار ولایت دغني خیلو ولسوالۍ اړوند ۲۵ نمبر ویالې سیمه کې اشغالګرو اوکورنیو عسکرو د خلکو پر کورونو د چاپې په مهال پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان کړي او درې تنه یې بندیان کړي دي.

دا پریل په ۸مه د روزګان ولایت د خاص روزګان ولسوالۍ په مربوطاتو کې دیرغلګرو په بمبار کې څلور تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

دا پریل په ۸مه دفاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالۍ په بلوچ سیمه کې اربکیانو یو ملا امام (مولوي عبدالودود) شهید کړی او یو بل تن (کمال الدین) دعسکرو دهاوان په ډزو کې شهید شوی دی.

دا پریل په ۱۰مه دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ په عرف اباد کلي کې داخلي کمانډویې عسکرو دچاپې په مهال شپږ تنه ولسي هیوادوال شهیدان، دوه نفره زخمیان او پنځلس تنه بندیان کړي دي.

دا پریل په ۱۳مه دهلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ اړوند د ۳۱ غربي په سیمه کې د داخلي عسکرو له لوري توغول شوې دهاوان ګولۍ د (کمال) پر کور لګیدلې، چې له املې یې په دغه کور کې دري کوچنیان او دوه لویان شهیدان شوي دي.

دا پریل په ۱۴مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د نهرسراج دیخچال او ګوبن په سیمو کې یرغلګر او داخلي کمانډویې عسکر و چاپه وهلې، شپږ تنه ولسي هیوادوال یې شهیدان کړي او پنځه تنه یې ټپیان کړي دي. ګډو ځواکونو په دغه چاپه کې دخلګو نقلیه وسایط سوځولي او دوکانونه یې چو رکړي دي

دا پریل په ۱۴مه د لغمان ولایت ددولت شاه ولسوالۍ په وئیس مورا سیمه کې دکورنیو عسکرو دتوپچي په ډزو کې یو جومات زیانمن شوی، دوه ماشومان شهیدان او څلور ژوبل شوي دي.

دا پریل په ۱۶مه دهلمند ولایت دګرشک ولسوالۍ دمالګیرپه سیمه کې دیرغلګرو پهبمبار کې دیو یې کورنۍ دري تنه غړي شهیدان شوي دي

دا پریل په ۱۶مه دبغلان ولایت مرکزي بغلان ولسوالۍ کې د داخلي عسکرو په ډزو کې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان او یو تن ټپي شوی دی.

دا پریل په ۱۸مه دننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ د وزیرو په میرزاخیلو سیمه کې اشغالګرو او کورنیوعسکرو دچاپې په مهال یوه میرمن شهیده کړې او شپږ نفره ملکي وګړي یې بندیان کړي دي.

دا پریل په ۱۹مه دفاریاب ولایت دشیرین تګاب ولسوالۍ د بازار تپه په سیمه کې داخلي عسکرو یو ځوان (نجیب الله د عبدالقیوم زوی) شهید کړی دی.

دا پریل په ۱۹مه دفراه ولایت دمرکز اړوند د سوراو شوراو په سیمه کې ځایې پولیسو یو موټر چلونکی د ۲۰ افغانیو دنه ورکړي له املې شهید کړی دی.

دا پریل په ۲۰مه دفاریاب ولایت د المار ولسوالۍ د چغاتک په سیمه کې اربکیانویو کلیوال شهید کړی دی.

دا پریل په ۲۲مه یرغلګرو او داخلي عسکرود میدان وردګ ولایت دچک ولسوالۍ په بیلابیلو کلیو باندې چاپې وهلې، دکورنو دروازې یې په بمونو الوزولي، خلګ یې وهلي، دادم خپلو دکلي یو ملکي

تن (همایون)یې شهید کړی او پنځه تنه نور کلیوال یې بندیان کړي دي.

دا پریل په ۲۷مه دنیمروز ولایت ددلارام ولسوالۍ په مرکز کې داخلي عسکرو یو ماشوم هلک له خپل دوکان څخه را ایستلی او شهید کړی دی.

دا پریل په ۲۸مه دفاریاب ولایت د جمعه بازار ولسوالۍ د حاجي بابا په سیمه کې د داخلي ځواکونو دهاوان په پیرونو کې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دا پریل په ۲۸مه د غزني ولایت دقره باغ ولسوالۍ په عیدي کلي کې اربکیانو د ښوونځي یو زده کونکی شهید کړی دی.

د اپریل په ۲۸مه رسنیو خبر ورکړ چې: د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ په ګراني، ګنج آباد، شیوان او کال قلعه سیمو کې یرغلګرو او داخلي کمانډویې عسکرو دعملیاتو په مهال اته تنه ملکي هیوادوال شهیدان او ټپیان کړي، همداراز په یادو شو عملیاتو کې د ولسي وګړو اویا (۷۰) کورونه، یو کلینیک، باغونه او ټولګټې ځایونه په بلدوزونو، بمبارونو او هاوانونو ویجاړ کړل شوي دي.

دا پریل په ۲۸مه دکندهار ولایت دارغستان ولسوالۍ په بولان کلي کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال څلور تنه ملکیان ټپیان کړي او دمیل کلي کې بیا د یرغلګرو په ډرون حمله کې څلور نفره ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

دا پریل په ۲۹مه د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په ګبرو اوخانان کلا کلیو باندې اشغالګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې، دکورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، کورونه یې تالاشي کړي، خلک یې وهلي او دوه تنه ملکي وګړي یې شهیدان کړي او دوه نور یې اسیران کړي دي.

دا پریل په ۲۹مه اشغالګرو او داخلي عسکرو د خوست ولایت د سپیره ولسوالۍ په ځمځي سیمه کې د ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې، یوه میرمن او یو ماشوم یې شهید کړی او دیرش تنه ملکي هیوادوال یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

دا پریل په ۲۹مه دبادغیس ولایت دقادس ولسوالۍ د کابلیانو په سیمه کې ځایې عسکرو یو ملکي وګړی چې له فراه څخه سیمې ته د کوکنارو دنیښې وهلو لپاره راغلی و ،شهید کړی دی.

دا پریل په ۲۹مه دروزګان ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند د تالاني په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال یو سپین ږیری (حاجي عبدالمالک اکا) شهید او یوبل سپین ږیری ژوبل کړ ی دی.

دا پریل د ۳۰ مې په مابنام اشغالګرو د هلمند ولایت د مرکز لښکرګاه باباجي اړوند کوپکه سیمه کې پر لمونځ کونکو بمبار کړی، په دغه بمبار کې اته تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي او پنځلس نفره ټپیان شوي دي.

مأخذونه : [بي بي سي راډیو، ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ، پژواک = ،خبریال ویپانه ،لراوبر= ، نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

د مورچل وږمي

فکرمل

تږی هوس

تږی هوس تږې اروا د سنګرونو غېږ کې
چټه ځواني اوبس غزا د سنګرونو غېږ کې

د بسترې له ژونده زر ځلې اوچته مزه
لري پیره جنګي ستړیا د سنګرونو غېږ کې

د حرمینو عبادت دومره ثواب نلری
لکه یو څوسانیې ژړا د سنګرونو غېږ کې

که پرمونږ پرېوته دوزخ به راته هېڅ نه وایی
خاورې ګردونه او هوا د سنګرونو غېږ کې

د عادي ژوند له دوامداره عابد ډېره ښه ده
ستړی شبګیر ماته خندا د سنګرونو غېږ کې

له صوفیتو به درته خوب دغرۀ په سرکې ښه دی
له اخوندۍ څخه ملا د سنګرونو غیږ کې

چه میدانونه راته پېغلې په ټپو وګټي
زلمیه څۀ دې کوؤ بیا د سنګرونو غېږ کې

مونږ نا خبره یو خو مرګ راپسې ورځې شماري
ولې بیانه کوؤ سودا د سنګرونو غېږ کې

ای !فکرمل طالب ته وکړه د اخلاص لپه کې
د شهادت یوه دعا د سنګرونو غېږ کې

د کندوز د ګلالیو

حافظانو شهیدانو په یاد

احمد بریالی

په آداوو په نازونو کي ویده شي
تاندو ګلو په ګلونو کي ویده شي

دمورکۍ دګرمو اوښکو په دېګلي کی
سوځېدلو ارمانونو کي ویده شي

د کهول د برېږم خاطر وګوری
دستم په چپاوونو کي ویده سی

مشره خور درته راځي غریو نیولې
په سلګواو په آهونو کي ویده شي

چنګېزي تاړاک لازور ختلی نه دی
په درنو درنو خوبونو کي ویده شي

درته ایشي د خزان خونخوره سترګی
کور نه لیري په قبرونو کې ویده شي

داحساس غروب ولاړګوته په غاښ دی
دناترسه په بمونو کي ویده شي

سوخت دهجر بریالي زړه ته تحفه کړی
دخونخوردښمن په پلونوکي ویده شي

د مرحوم امیرالمؤمنین په یاد کې

غزل

شفاعت ریحان

شاعر : حافظ محمد عَزام

یو تیارو وړې د سهار و ښار ته لار نه لرو
د لمر او ستورو د قرار و ښار ته لار نه لرو

ستا د هجران شیبې لا مَل دي له کاروانه سره
په زړو کي پټ ساتي دردونه له ارمانه سره

کلونه کېږي چې پراته یو د خزان کلي کې
د پسرلو او د بهار و ښار ته لار نه لرو

مرحوم امیرالمؤمنینه رب دي در کړي جنت
ژوند دي کړو تیر له ننګ غیرت او له ایمانه سره

غریبان خلګ یو غربت مو هیلې و لو ټلې
کلي کې نشته دی روزګار ، و ښار ته لار نه لرو

ستا په فراق باندي رهبره ټول اُمت خفه دی
لا په ګریوان یې اوښکي څاڅي له خفګانه سره

د دې سور مخو کافرانو د یرغل له لاسه
د خپل بابا د افتخار و ښار ته لار نه لرو

لا یې د مینې تنده ماته نه وه ستا په دیدن
ناڅاپه یوړلې مرګي له خپله ځانه سره

ورانه کېږدی مو د رقیب د خپې مخ ته پرته
بد بخته خلګ یو د یار و ښار ته لار نه لرو

در پسې ژاړي اولسونه مدام تا یادوي
کلی او کور دي تنها پریښود له جهانه سره

د حال تپوس خو مو کوئ د ښاریې ملګرو
مورِ خو زندان کې یو حصار و ښار ته لار نه لرو

سهار مانښام درپسې پورته په دعا لاسونه
له ربه غواړي درته حوري له غلمانه سره

تر څو به ګرځو شفاعته د هجران دښته کې؟
تر څو به خپل د حسن دار و ښار ته لار نه لرو؟

درپسې کړې اِقتِدا به عَزّام ماته نه کړي
ځکه یې کړې ده وعده له پاک سبحانه سره

۲۰۱۸ زکال

د اپریل د میاشتې جهادي خبرونه

د کورنیو او بهرنیو عسکرو ځکه ډیموکراسي خدمت!

MORCHAL

Islamic. Jihady . Educational
and Cultural Monthly Journal

د (الخندق) جهادي عملياتو په اړه د اسلامي امارت د اعلاميې څو ټکي...

اسلامي امارت سړي جهادي عمليات ځکه د (الخندق) په نوم تفاؤلا ونومول چې زموږ اوسنی جهادي وضعيت کټ مټ د صدر اسلام د مسلمانانو هغه وضعيت ته ورته دی چې د هجرت په پنځم کال د اسلام د دښمنانو مختلفې ډلې وروسته تر دې چې د بدر په غزوه کې يې لويه ماتې وخوړه تر مختلفو نومونو لاندې سره راټولې او په مدينه منوره کې يې د اسلامي حاکميت د له منځه وړلو په مقصد د جګړې او زور ازمويلو پريکړه وکړه، خو د مشرکينو دغه ستر تهاجم چې په غزوة الاحزاب يا غزوة الخندق سره يادېږي، الله تعالى يې نتيجه د هغه څه برعکس کړه کومه چې کفارو ترې تمه درلوده او د (الخندق) معرکه په ځای د دې چې د مسلمانانو د محوه کولو وروستۍ جګړه شي د کفارو په پريکنده شکست سره په داسي ډول پای ته ورسيده چې له هغه وروسته يې بيا هيڅکله هم په مدينه منوره باندې د يرغل جرأت ونه کړای شوای او په اړه يې رسول الله ﷺ وفرمايل: اوس به موږ ورباندې حملې کوو، نور به دوی راباندې حملې نه کوي، بيا هغه و چې د مجاهدينو مسلسل فتوحات پيل او دکفارو شکستونه په برخه شول.

د (الخندق) جهادي عمليات چې طرح او پلان يې د اسلامي امارت د نظامي کميسيون د مجربو او ماهرو مسلکي کدرونو لخوا ترتيب شوی د اشغالګرو د موجوده جنګي ستراتيژي په مقابل کې په متقابلو چريکي، هجومي، نفوذي او نورو نويو او پيچليو تکتيکونو سره عيار او د امريکايي يرغلګرو او د هغوی د ملاتړو په ځپلو، ټکولو او ژوندي نيولو باندې به تمرکز ولري.

امريکايان او د هغوی استخباراتي ايجنټان به يې لومړنی هدف او داخلي ملاتړي به د ثانوي هدف په حيث ورکې په نښه کيږي او هم به دفتنه ګرو را ټوکيدلي او راټوکېدونکي حرکتونه په نطفه کي خنثی کيږي.ان شاءالله.